ډاکټر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۳/۰۵/۱۵

# په آزاد سرحد کې د مومندو مبارزې

(دریمه برخه)

## دمومندو تاریخي جګړې او غزاګانې

دمومندو دتیرو پنځو پیړیو تاریخ ددوی دمړانې ، او دښمنانو سره د جنګ - جګړو د کارنامو نه ډک دئ . دمومندو مشرانو او کشرانو د پیرروښان په نامه مشهور د روښاني غورځنګ د مشر بایزید انصاري او د هغې داولادې کلک ملاتړ کړې او د مُغلو او هغوي د محلي مخالفینو په وړاندې یې د روښاني نهضت ټینګه پلوي کړې ده . کله چې بایزید انصاري لومړې ځل ننګرهار ته لاړ نو د مومندو له خوا یې، تر هغې چې بیا وروسته پېښور ته لاړ، ساتنه وشوه (۱).

په ۱۵۸٦ م کال کې مومندو د پیښور په شاوخوا کې دنورو غُرياخيلو قبيلو سره يوځاى د بایزید انصاري کشر ځوی، جلال الدین، خپل مشر و ټاکه او دمُغلو په وړاندې يې پاڅون وکړ. دوی د پیښور دبګرام په قلا یرغل وکړ او دسید حمید په نامه یې د مُغلو "فوجدار" یا دلښکرکوټ قوماندان هم ووژه(۲).

مومندو دمُغلو د "شاهنشاه جلال الدین اکبر" او دهغه د کړوسي اورنګزیب د قواوو مخالفت هم کړې او د هغو په وړاندې یې د افریدو، شینوارو او صافو ټینګ ملاتړ کړیدئ. پدې جګړو کې دمومندو مشر ایمل خان مومنداو دافریدو مشر "دریا خان افریدي وو. دمغل شهنشاه اکبر یو اعتباري او وتلي ملګرې، درباري او وزیر اعظم "راجابیربل" هم په همدې جګړو کې ووژل شو. راجا بیربل سنګهـ د شاهنشاه اکبر دهغې داخلي نهه کسیزې مشورتي ډلې غړې وو چې د نوارتنا navaratna په نامه یادیده ، دسانسکریټ دا لغت د نهو غمو معنی لري. ویل کیږي چې د شاهنشاه اکبر نه وروسته بیربل د "دین الهی" یواځینې بل منونکي وو. دین الهی په ۱۸۵۱م کال کې د مغل شاهنشاه اکبر لخوا جوړ او پیروان یې د نولسو (۱۹) کسانو څخه زیات نه وو. بیربل ددې دین یواځینې هندو غړې وو. اکبر کوښښ کاوه یو داسې دین منځ ته راولي چې د مسلمانانو او هندوانو دواړو دپاره د منلو وړ وي. په دې کې د اسلام، عیسویت، بودایت، او زردشتي ادیانو په شان مختلفو ادیانو غوره اساسات راټول شوي وو. شاهنشاه اکبر ددین الهی روحاني مشر، او ابول فضل، د هغه نږدې ملګرې او د دربار مؤرخ یې ستر ملا وو.

د یوسف زو په سیمه کې دملندرۍ د کوتل په جګړه کې د بیربل د وژل کیدو د خبر د اوریدو نه وروسته، اکبر دیوې اوږدې مودې دپاره ماتم ونیو.

دپښتو ژبې نامتو شاعر خوشال خان خټک د ایمل خان مېړانه او توره پخپلو شعرونو کې ستایلي ده. اروابناد سید رسول رسا دارمغان خوشال په سریزه کې وایي، چې د خیبر په جنګ کې د پښتنو پټ جرنیل پخپله خوشال خان و، وروسته له دې خوشال خان او ایمل خان دواړو د نوښار په کوټ باندې حمله وکړه او دغه کلا یې ونیوله او هم د نوښار د جګړې نه دمخه د صوابۍ په جګړه کې مغلو ماتې خوړلې وه، چې خوشال خان یې په دې ډول یادونه کوي:

دویم جنــګ دمیر حسین په دوابه کې
چـــې یې وتــکیده ســـر لـــکه د مــار
بیا له پسه د نـوښار د کوټ جنګ وو
چـــې مې وکېښ تر مغلو خپل خمار
(ارمغان، ۱۸مخ)

کله چې د مومندو په ګنداب کې په ۱٦٧٣ کال کې د پښتنو او مغلو تر منځ جګړه ونښته، هغې کې د پښتنو د لښکرو مشر ایمل خان مومند اود مغلو د لښکر مشران شجاعت خان او جسونت سنګهـ وو. په دې جګړه کې د مغلو د لښکر مشر شجاعت خان ووژل شو او جسونت سنګهـ په تېښته ځان خلاص کړ. په دې جګړه کې ایمل خان لویه فتحه وکړه. خوشال خان دغه جنګ په دې ډول یادوي :



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

بیا له پسه جسونت سنگهـ شجاعت خان وو
چې ایمل یې پـه گنداب ویوسـت د مـــــــار
(ارمغان،۱۸مخ )

په ۱٦۷۳ کال کې د مومندو دغره په علاقه کې د خاپښ په دره کې د مغلو او پښتنو تر منځ بله جګړه شوې . پدې جګړه کې هم د پښتنو د لښکر مشران ایمل خان مومند او دریا خان افریدي وو او د مغلو د لښکر مشران مکرم خان او شمشېر خان وو، مغلو ماتې وخوړه، مکرم خان وویشتل شو. په داسې حال کې چې دوه پرهاره یې خوړلي وو،




باجوړ ته روان شو. (ارمغان، ۱۷ )

شپېږم جنګ مکرم خان شمشېر خان دواړه
چې ایمل کړل په خاپښ کې تــار په تـــــار(۳)

**انگریزانو سره د مومندو تاریخي غزاګانې**

مومند دانګریزانو سره لومړې ځل دافغانانو او انګریزانو د لومړۍ جګړې په وخت کې،(۱۸۳۸-۱۸٤۲)، مخامخ شول (په انفرادي توګه په ۱۸۳۲ م کال کې برنس (Alexander Burnes) د مشهور جاسوس موهن لال کشمیري په ملګرتیا لومړنې انګریز وو چې دافغانسستان له لارې یې بخارا او پارس ته سفر وکړ او دلومړې ځل دپاره مومندو

سره مخامخ شو). پدې وخت کې سعادت خان په لالپوره کې د مومندو مشر وو (د سعادت خان په هکله به وروسته زیات معلومات وړاندې شي). دانګریزي لښکرو د نژدې کېدو د خبر په اورېدو سره، دسعادت خان تربور او دښمن، طره باز خان، په جهلم کې دهغوې مخې ته لاړ. سعادت خان په نتیجه کې د بارکزو واکدارانو ملاتړ وکړ او طره باز خان د انګریزانو لخوا د لالپورې دخان په توګه وټاکل شو. کله چې انګریزانو په کابل کې ناوړه ماتې وخوړه نو طره باز خان هم په ځان وویرېده او پداسې حال کې چې د "پېشبولک" د لښکر کوټ قواوې د تاترې په سر وتختېدې، هغه د لښکر کوټ نه (په اغلب ګمان د "فیریس" Ferris په نامه) دیوې انګریزې ښځې او هغې د ماشوم په ژغورلو سره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغوي په سيند کې پيښور ته ورسول او خپله يې هم انګريزانو ته پناه وروړه. طره باز خان يو ځل وروسته هم د جنرال پالک په ملګرتيا دستنيدو کوشش وکړ، خو دانګريزي قواوو په وتلو سره يې د سعادت خان نه ماتې وخوړه.

انګريزان پخپله اعتراف کوي چې په پيښور کې ددوي دلومړنيو کلونو دواکمنۍ په دوران کې مومندو د بل هر قوم نه دوی د زيات بحران سره مخامخ کړيدي(٤).

**انګريزانو سره د مومندو دغزاګانولنډيز(٥)،(٦)،(٧)،(٨)**

په انګريزانو باندې دمومندو لومړنی حمله د ١٨٥٠م کال ددسمبر په مياشت کې هغه وخت وشوه چې دلالپوري دسعادت خان ځوي فتح خان د شبقدر په کلي باندې حمله وکړه.

د ١٨٥١ کال د مارچ په مياشت کې مومندو د پنډيالی نه د دوآبې په سيمه حمله وکړه. دهمدې کال د مارچ او اپريل په مياشتو کې عيسی خيل او برهان خيل مومندو په مته دوه حملې وکړې. پدې جګړه کې دانګريزي قواوو مشري د لومړي مرستيال ميلر Lieutenant H. N. Miller په لاس کې وه. په همدې کال کې انګريزانو د مومندو د حملو په وجه د ميچنی او شبقدر پوځي قلاګانې جوړې کړې.

د ميچنی پوځي قلا د پيښور د ښار نه ١٥ ميله د شمال لورې ته د کابل د سيند چپې غاړې ته پرته ده. دا قلا د کابل په سيند د پورې وتلو په مهمې جالې حاکميت درلود چې اوس پرې پل جوړ شويدئ. او د سرحد نه پورې غاړه مومندو د پرلپسې حملو په نتيجه کې جوړه شوه. ديادونې وړ ده چې د ميچنی د قلا د جوړونکې ډلې قوماندان مرستيال بولنويس (Lieutenant Boulnois) همدلته په ١٨٥٢ کال کې د مومندو لخوا ووژل شو، او ددې عسکري پوستې يو قوماندان تورن مکډونالډ (Major MacDonald) هم په ١٨٧٣م کال کې وژل شويدئ .

دشبقدر قلا د پيښورد ښار نه ١٧ ميله لرې شمال لويديز ته د چارسدې په تحصيل (اداري واحد) کې پرته ده . دا قلا لومړي ځل د سکهانو له خوا جوړه او د د شنکرګړ په نامه نومول شوې وه. دا قلا د شبقدر د کلې نه دوه ميله لرې جوړه شوې وه خو اوس يې شاوخواته آبادې جوړه شوې او په ګاونډ کې د غره د مومندو سره د مهم تجارتي مرکز په توګه يې پراختيا موندلې ده. دا يوه ټينګه پوځي قلا وه چې د انګريزانو د لښکرکوټ په توګه ترې استفاده کيده او وروسته بيا عسکري پوليسو ته وسپارل شوه.

د ١٨٥١ -١٨٥٢م کلونو غزا د ډګروال کولين کمپل Brigadier Sir Colin Campbell په مشرۍ د انګريزانو د تيري کونکي فوځ سره وشوه. دا تيری د يوزر پنځه سوه درې نوي (١٥٩٣) تنو عسکرو او منصبدارانو په ګډون د١٨٥١ کال د اکتوبر دمياشتې په ٢٥ نيټه پيل او د ١٨٥٢ کال د فبرورې تر دولسمې پورې روان ؤ.

د ١٨٥٤ کال غزا چې د کرنيل کاټن "Colonel Sydney J. Cotton"په مشرۍ د انګريزي فوځ سره وه .

د١٨٥٥ نه تر ١٨٦٠ م پورې پنځو کلونو تر منځه مومندو پر انګريزانو پرلپسې حملې وکړې چې لړ تر لږه درې اتيا (٨٣) يې مهمې حملې وې. د١٨٦٠ م کال په پسرلي کې د مومندو په مشر سعادت خان باندې د امير شير علی خان دفشار له امله تر دوو کلونو پورې حملې کمې شوې.

د ١٨٦٣ م کال ددسمبر په مياشت کې دمومندو د حملو يوه بله لړۍ پيل شوه چې وروستۍ جګړه يې د ١٨٦٤ کال د جنورې په دوهمه نيټه وه، په کومې کې چې د مومندو دلښکرو شمير پنځه زره پنځه سوه (٥٥٠٠) تنو ته رسيده . پدې جګړه کې د انګريزي فوځ مشري د "کرنيل ميکدونالد" په غاړه وه. پدې جګړه کې انګريزې چارواکې دې نتيجې ته ورسيدل چې١) د انګريزانو دګټو د خوندي ساتلو دپاره په لالپوره کې ديوه داسې خان شتوالې مهم دئ چې د انګريزانو ملګرې وي، او ٢) د مومندو د حملو په وړاندې د ميچنی او شبقدر د تانو او پوځي قلاګانو دفاعي ارزښت په نشت حساب دئ.

له همدې امله انګريزانو په اميرشير علی خان باندې فشار راوړ چې دلالپورې خان (خپل خسر) په کابل کې نظربند وساتي. دلالپورې خان د همدې کال په ژمي کې په کابل کې مړ شو.

هنري ميکدونالد، د ميچنی د نظامي قواوو قوماندان د ١٨٧٣ کال دمارچ په ٢٢مه نيټه د مومندو لخوا ووژل شو.

د انګريزانو سره د مومندو بله غزا په ١٨٧٩ م کال کې، د افغانانو او انګريزانو ددويمې جګړې ، په وخت کې وه. دا هغه وخت وو چې د برتانوي هند او افغانستان د سرحد دواړو خواوو کې د انګريزانو په وړاندې د جهاد او غزا

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اعلان وشو او سیمې ملايانو او روحانيونو هم پکې ګډون وکړ. د انګريزي فوځ مشري پدې جګړه کې د "جنرال ټيلر" په غاړه وه.

د انګريزانو سره د مومندو بله غزا په ۱۸۸۰ کال کې پيښه شوه چې دمومندو ټولو مهمو قبيلو پکې برخه درلوده. د انګريزي مؤرخينو په وينا پدې جګړه کې مومندو ډيره سخته دفاع وکړه خو د انځري کندو يې له لاسه ورکړ . پدې جګړه کې د انګريزي فوځ مشري د "جنرال ډورن" په غاړه وه .

د ۱۸۹۷ م کال مشهوره غزا د مشهور ملا نجم الدين آخندزاده په مشرۍ وشوه چې په هډې صيب مشهور دئ. پدې غزا کې د مومندو لښکر په ډيرۍ او شنکرګړ (شبقدر) کلا حمله وکړه او بازار يې وسو. پدې غزا کې د افغانستان له لورې هم ګڼ شمير غازيانو د ملا نجم الدين آخندزاده سره ملګرتيا کړيوه، دکومې په نتيجه کې د امير عبدالرحمن خان ديوه رسمي فرمان په ترڅ کې په جلال آباد کې د خپل نائيب الحکومه نه غوښتلي وو چې په راتلونکې کې د افغانانو دداسې ګډون مخنيوی وکړي.

د ۱۹۰۲ او ۱۹۰۳ م کلونو ترمنځه هم د انګريزانو او مومندو ترمنځ څو وړې نښتې شويدي دکومې په نتيجه کې د انګريزانو او امير عبدالرحمن خان ترمنځه د مومندو په سيمه کې د سرحد (پولې) د نښه کولو خبرې اترې پيل شوې.

د ۱۹۰۸م کال مشهوره غزا چې دسرې غزا په نامه يادېږي او د کنړ غازي ميرزمان خان پکې دکنړ دغازيانو د بريالي او اتل مشر په توګه وځليد اوشهرت ته ورسيد. دا غزا، داقرب په ډاګ کې د بتخاک د حضرت صاحب (عبدالشکور) په مشرۍ سرته ورسيده.

د ۱۹۱۵م کال مشهورې درې غزاګانې چې دري واړه د اقرب په ډاګ کې وشوې، انګريزانو پدې جګړه کې د لومړي ځل دپاره د هوايي قواوو نه کار واخيست. دکنړ غازي ميرزمان خان هم په دې غزا کې ستره ونډه درلوده، او د ترنګزو حاجي صاحب (حاجي سيد فضل واحد) هم په همدې کال کې د مومندو د لښکر مشري ترلاسه کړه.

۱۹۱۹ م کال داستقلال غزا

په ۱۹۲۷ م کال کې د مومندو لښکر د الينګار د فقير صاحب د مشرۍ لاندې د انګريزانو سره غزا وکړه. پدې غزا کې د انګريزانو د هوائي بمبارۍ له امله د مومندو ګڼ شير جنګيالي شهيدان شول.

په ۱۹۳۰ م کال کې مومندو د سمڅې په سيمه کې د انګريزانو سره سخته جګړه وکړه.

په ۱۹۳۳ م کال کې د مومندو لښکرو د ګنداب په سيمه کې انګريزانو ته سخته ماتې ورکړه او هغوی يې د ګنداب د سيمې نه وتلو ته مجبوره کړل.

په ۱۹۳۵ م کال کې مومندو يو ځل بيا انګريزي قواوو ته سخته ماتې ورکړه، زياتې وسلې او مهمات يې ترې واخيستل او د تل دپاره يې د ګنداب د سيمې پريښودو ته مجبوره کړل .

(نوربيا)

## منابع


١. Hussain S. Iftikhar (2000). Some major Pukhtoon tribes along the Pak-Afghan border. (دپاک – افغان په پوله ځنې سترې پښتني قبيلې) ، ۷۸، ۷۹ مخونه.

٢ . هماغه ځای

٣ . افغان ادبي بهير (www.baheer.com) . انترنتي پته : http://www.baheer.com/baher/modules.php?name=News&file=print&sid=3290

٤ . Mason, William Henry Paget (1980). Tribes of the North-West Frontier، (دشمال مغربي سرحد قبايل)، ۲۳۲ مخ .





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

.٥   سيال مومند، ميراجان (١٣٥٤ کال). د مومندو غزاګاني. يونيورسټی بک ايجنسي، پيښور، ١٢-١٨ مخونه
.٦   Nevill, H. L. (1977). Campaign on the North-West Frontier.
(په شمال مغربي سرحد کي عسکري عمليات )، ٤٠٤ مخ
٧ . Mason, William Henry Paget (1980)،
٢٣٢ او ٢٣٣ مخونه.
٨ . Merk, W.R.H. (19840). The Mohmands.
(مومندان) ، ٢٦-٢٨ مخونه.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ